مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخڅ ۲۰۲۳/۰۴/۱۷

# د افغانستان جمهوریت د سقوط عوامل
## د پاکستان رول
(پنځه لسمه برخه)

### د پاکستان جوړښت او پاشل (۳)

محمد علي جناح او انډیوالانو یې د پاکستان د جوړولو او واک ته د رسیدلو په موخه د اسلام له سپیڅلي دین څخه وسیله جوړه کړي وه او د پاکستان په نوم د یو اسلامي حکومت د رامنځ ته کولو شعارونه یې ورکول، د مسلمانانو د غولولو لپاره یې تر هغې چې پاکستان نه ؤ جوړ شوی د اسلام او مسلمان کلمه په خوله وه، له بده مرغه د هند مسلمانانو په پټو سترګو د مسلم لیګ او جناح پر تبلیغاتو باور کاوه، مسلمانان که نور په هیڅ نه پوهیدل او د جناح د اسماعیلي ګروهي مالومات یې نه درلودل، د جناح ظاهري قیافي ته یې هم نه کتل چې د ده او د هندوانو د یو پنډت قیافي تر منځ توپیر نه ؤ، لږترلږه د جناح څېرې ته خو به یې کتلي وای، آیا د مسلمانانو د مشر داسې بې ږیرې مخ وي؟ ربښتیا چې جناح هوښیار سړی ؤ ده په دا ډول حالت کې پر مسلمانانو ځان ومنلو او خپلې موخې ته ورسیده چې بل چا دا کار نه شو کولی.

ولي خان د مسلم لیګ د شعارونو په هکله لیکي:«د پاکستان له جوړولو وړاندې د مسلم لیګ شعار یا نعره دا وه:**(پاکستان کا مطلب کیا هې؟ لا اله الا الله)** ولي همدغو د مسلم لیګ مشرانو دا فیصله وکړه چې دغه د **[ لا اله الا الله]** کلمه په ځای پرېږدي او د پاکستان له مطالبي نه دست برداره شي، نو که په هغوی دا اعتراض وشي چې دوی خو د پاکستان او **(لا اله الا الله)** یو ترون پیش کړی ؤ، نو آیا د هغې به دا مطلب نه وي چې ګني د دغي [طیبي] کلمي نه هم وېزاره کېناستل، مذهب خو د دې خبرې چرې هم اجازه نه ورکوي چې نن دې د کلمې په بنیاد یو مذهبي تحریک وچلیږي او سبا له دې همدغه مذهبي تحریک پرېښودی شي، په دا شان خو به دا ټول عمل د دغي [طیبي] کلمي نه هم په انکار قامیږي.» (عبدالولي خان: ربښتیا، ربښتیا دي. ۳۲۵مخ)

لکه وړاندې چې وویل شول، محمد علي جناح نه هندو ؤ، نه مسلمان، دی د اسماعیلیانو یوې منحرفې ډلې ته ګروهمن ؤ، نوموړي په پاکستان کې د اسلامي شریعت د پلي کولو هوډ نه درلود، جناح او نورو مسلم لیګیانو مسلمانان په دې وغولول چې کله د پاکستان په نوم له هند څخه خاوره جدا کړي نو په پاکستان کې به اسلامي شرعي نظام او قانون پلې کوي، له بده مرغه جناح مسلمانان د خپلې واکمنې لپاره د اسلام په نوم تېر ایستل نه یې اسلامي قانون پلې کړ او نه یې د انګرېزانو قانون بدل کړ، هغه د انګرېزانو پخوانی (۱۹۳۵ز) کال حکومتي سیستم او قانون په خپل حال پرېښودل.
«که د مسلم لیګ سیاست ته وکتی شي، نو د مسلم لیګ مشرانو هر چا ته د هغوی د خواهش مطابق خبره کوله، جناح صاحب چې به کله سرحد [پښتونخوا] ته راغی نو هغه به د نورو نه علاوه دلته کافي مذهبي مشرانو او پیرانو سره هم لیده کاته کړي وو، د مانګي شریف پیر صاحب امین الحسنات له یې لیکلی [سند] ورکړی ؤ چې پاکستان به یو اسلامي مملکت وي او په کې به قانون شریعت محمدي وي.»
ولي خان وړاندې ځي او د مسلم لیګ له یو لوړپوړي چارواکي، سکندر میرزا له قوله لیکي:«... کله چې موږ فیصله وکړه چې له ډیلي نه کراچي ته ځو، نو ما یوه ورځ د قائد اعظم نه تپوس وکړ چې جناب! موږ خو ټول پاکستان ته روان یو مګر تپوس دا کوو چې هلته به څه قسمه حکومت تاسو جوړوئ؟ آیا ستاسو اراده دا ده چې داسې حکومت به وي چې د هغې داروم‌دار به په اسلام وي؟ قائد اعظم ووې:
**«no nonsens نه، بکواس، چټیات، زه به یو عصري حکومت جوړوم.»** (هماغه کتاب. ۳۲۶مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

په دې پلمه چې له هندوانو یوه پاکه خاوره، پاکستان د جناح او انګرېزانو له خوا له هنده بېله شوه او د پاکستان اسلامي جمهوریت نوم یې هم ورکړ، جناح د دغه پاک (؟) هېواد پاکستان د قانون جوړوني اسمبلۍ ته په وینا کې خپله پالیسي څرګنده کړه، په وینا کې جناح د اسلامي پاکستان پر خلاف خبرې وکړې، داسې چې هندوان او مسلمانان یې یو شان او مساوي وبلل، په وینا کې د اسلامي شریعت هېڅ ډول څرک نه لیدل کېږي او مذهب یې له حکومت څخه جدا او بېل وباله، په داسې حال کې چې پاکستان په دې موخه له هند څخه بېل شوی ؤ چې مسلمانان له هندوانو جدا او خپل اسلامي قانون ولري، د جناح وینا ولي خان پښتو ته ژباړلې ده:«... د ۱۹۴۷ز، کال د اګست په ۱۱مه جناح صاحب د پاکستان آیین سازۍ اسمبلۍ ته په خپل مفصل تقریر کې د مسلم لیګ حکومتي پالیسي ډېره په وضاحت سره په لیکلي توګه اعلان کړه:

ترجمه: «که چیرې تاسو خپله ماضي بدله کړئ او په شریکه دا کار وکړئ چې د دې بالکل پروا ونه لرئ چې تاسو د کومې مذهبي فرقې سره تعلق لرئ او د دې نه وړاندې ستاسو د یو بل سره څه قسمه تعلقات لرل یا چې ستاسو رنګ، ذات، نسل او عقیده څه ده، بلکې ټول په شریکه خان د دې مملکت اوسېدونکي وګڼئ او داسې اوسېدونکي چې ستاسو همه حقوق او ذمه وارۍ برابر وي نو ستاسو د ترقۍ او پرمختګ لارې آزادې دي.

زه دا خبره تاسو ته په ټینګه واضح کول غواړم چې که موږ په دې جذبه کار وکړو نو ډېر ژر به دا د اقلیتي فرقې او اکثریتي فرقې دا تمیز له منځه ورک شي. دا د هندو فرقې او مسلمان فرقې به له منځه لرې شي، ولې چې داسې خو موږ ګورو چې په مسلمانانو کې هم پښتانه دي، پنجابیان دي، شیعه ګان دي او سنیان دي او په هندوانو کې هم برهمن، وشنو (شودر)، کتهرې، بنګالیان او مدراسیان دي، نو ورو ورو به دا ټول فرق له منځه لرې شي.

تاسو د خپلې مذهبي عقیدې په سلسله کې آزاد یئ، که څوک درمسال ته ځي، که جومات ته او که بل عبادتځای ته، ستاسو که هر څه مذهبي عقیده وي ستاسو د مذهب، نسل او عقیدې د مملکت د کارګزارۍ سره هېڅ تعلق نه شته...

موږ باید ځان په دې اصولو پوه کړو چې موږ ټول د یو مملکت اوسېدونکي او د مساوي حیثیت مالکان یو... په کار دي چې موږ دا اصول د نوي نظریې په شان په خپل مخ کې وساتو، نو ژر به څرګنده شي چې هندوان به هندوان پاتې نه شي او مسلمانان به مسلمانان پاتې نه شي، یانې په مذهبي شکل کې نه، ولې چې مذهب خو د هر یو فرد د خپلې ذاتي عقیدې مسئله ده، بلکې په سیاسي حیثیت کې چې هر یو اوسېدونکی د دې مملکت د مساوي حقوقو مالک وي.» (هماغه کتاب. ۳۳۰مخ)

له بل پلوه د مسلم لیګ (د مسلمانانو اتحاد) هم تش په نوم ؤ، په مسلم لیګ کې یوازې مسلمانان نه بلکې هندوانو شتون درلود، ډېره د حیرانۍ خبره ده چې د پاکستان نوم په دې موخه پر نوموړي هېواد باندې کېښودل شوی ؤ چې دلته به یوازې مسلمانان اوسېږي او د مسلمانانو شرعي حکومت به وي خو د پاکستان په اسلامي جمهوري حکومت (؟) کې د سترې محکمې رییس یو هندو ټاکل کېږي.

ولي خان لیکي:«مسلم لیګ یو بل ډېر اصولي کار وکړ چې د مسلمان وزیر په ځای یې په خپلو پنځو نومونو کې یو هندو له هم نماینده ګي ورکړه چې د دغه نوم جوګندر ناټ منډل ؤ (هندو خو څه کوې چې دغه اچوت یانې هریجن هم ؤ) [ د لیکنې په پای کې د هریجن په اړه مالومات ولولئ.] چې دی به د یو مسلمان په ځای په مرکزي حکومت کې د مسلم لیګ نماینده ګي کوي. (هماغه کتاب. ۲۱۷مخ)

جوګندر ناټ منډل نه یوازې د سترې محکمې رییس ؤ، بلکې د پاکستان د قانون جوړوني لومړنۍ اسمبلۍ (جرګې) مشر هم وټاکل شو. د پاکستان د اسمبلۍ په ۶۹ غړو کې ۱۴تنو هندوانو او سېکانو استازیتوب کاوه چې ۴۴تنه له بنګال، ۱۷تنه له پنجاب، ۴تنه له سېند، ۳تنه له سرحد (پښتونخوا) او ۱تن له بلوچستان څخه ؤ.

او دا هم د حیرانۍ خبره ده چې «د آل انډیا مسلم لیګ ګوند بیرغ زرغون رنګه ؤ خو د پاکستان اسمبلۍ د دغه هېواد بیرغ ته سپین رنګ هم ورزیات کړ چې زرغون رنګ د مسلمانانو او سپین رنګ د نامسلمانو [هندوانو] او آزادۍ نښه ده.» (بي، بي، سي، اردو)

د سوچه پاکستان د حکومتي چارواکو په اړه عبدالولي خان لیکي چې کله د پاکستان د مرکزي حکومت اعلان وشو، نو جناح صاحب ګورنر جنرال (*) او نواب زاده لیاقت علي خان وزیراعظم شو، نور قابو هغه زاړه مسلم لیګیان وزیران شول، لکه چندریګر صاحب او سردار عبدالرب نېشتر او همهغه هندو هریجن جوګندرناټ منډل. دغې جوګندرناټ منډل ته د قانون محکمه وسپارلی شوه، مسلم لیګ خو له قام سره دا وعده کړې وه چې دلته به اسلامي مملکت پاکستان کې شریعت محمدي او قرآني قانون جاري کېږي ولې اوس خلکو ولیدل چې په دې اسلامي مملکت خداداد پاکستان کې د شریعت محمدي محکمه یو هندو او هریجن ته وسپارلی شوه او دا د عالمانو او ملایانو او پیرانو لپاره یو پېغور شو... د مانکي پیر صاحب لپاره دا ډېره ګرانه په دې وه چې هغه د جناح صاحب، لوظ او وعده د یو خط په ذریعه ځان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

سره ساتلي وه چې پاکستان کې به اسلامي نظام او شریعت محمدي وي خو د پاکستان د قاضي القضات منصب یو غیر مسلم ته حواله شوي دی، نو دا په اسلام او شریعت پورې خندا نه ده نور څه دي؟ د دي ځواب به چا څه ورکړی وای؟. (هماغه کتاب. ۳۴۱مخ)



پوهیږو چې د هر هېواد ولسمشر چې کله د ولسمشرۍ دنده په غاړه اخلي نو د هغه هېواد د سترې محکمې
رییس یا دیني مشر له خوا، هیواد ته د وفادارۍ لوړه د اړوند هېواد په دیني کتاب ورکول کیږي خو د پاکستان د سترې محکمې رییس هندو ؤ، هغه هم نه شول کولی په قرآن لوړه ورکړي. جناح ته هغه لوړه چې باید د سترې محکمې یو مسلمان رییس ورکړي وای، د هندوستان وروستني وایسرای له خوا ورکړای شوه. «(لارډ ماونټ بیټن، محمد علي حناح او د ماونټ بیټن ښځه)
لارډ ماونټ بیټن سره د
خپلې ښځې کراچۍ ته راغی چې د تاج بریتانیې د نماینده په حیث او د هندوستان د آخري وایسرای په حیث د پاکستان نوي ګورنرجنرال محمد علي جناح ته د عهد سوګند ورکړي.» (هماغه کتاب. ۳۳۸مخ)

موږ نه پوهیږو چې جناح ته هغه لوړه د انګرېزانو په انجیل ورکړی شوه که په کوم بل کتاب؟ ښایي جناح د خپلې اسماعیلیه ګروهې سره سم دا ښه بللي وي، د دې پر ځای چې د مسلمانانو په کتاب قرآن لوړه وکړي د هند د وایسرای، له خولې هغه څه تکرار کړي چې د یو انګرېز له خولې راوتل.

هر څه چې وي هغه به وي خو دا ثرګنده ده چې محمد علي جناح د انګرېزانو له خوا د رامنځ ته شوي هېواد پاکستان مشر وټاکل شو چې د ۱۹۴۷ز، کال د اګسټ په ۱۵مه نېټه یې اعلان وشو او د اګسټ ۱۴مه

------------------------------------------------------------

(*): څوک چې د انګلستان د پاچا لخوا د انګلستان د مشترک المنافع هېواد حاکم (والي) وټاکل شي.

ورځ یې د پاکستان د آزادۍ ورځ وبلله.

ومو لوستل چې محمد علي جناح تش په نوم مسلمان ؤ، د پاکستان هېواد هم تش په نوم اسلامي جمهوریت اعلان شوی ؤ، په حقیقت کې د پاکستان حکومت د جناح په خبر نه هندو ؤ نه مسلمان، د دې دواړو په منځ کې یو څه ؤ خو واکمني بیا هم تر ډېرې مودې پورې د انګرېزانو په لاس کې وه، عبدالولي خان وایي چې
«د پاکستان د جوړېدو نه پس هم دلته پیرنګیان په دومره ګڼ تعداد کې او په دومره اهمو او ذمه وارو عهدو قایم پاتې شول چې دا هډو د چا یقین نه کېده چې ګني پیرنګی تللی دی او موږ اوس آزاد یو، د صوبې ګورنر پیرنګی چیف سکرټري پیرنګی، نور سکرټریان پیرنګیان د پولیس جرنېل پیرنګی، نور خو پرېږده چې د پي، ډبلیو، ډي (P. W. D) او بجلۍ د محکمې سکرټري هم پیرنګي ؤ. (هماغه کتاب. ۳۴۸مخ)د پاکستان ډېر عام وګړي تر اوسه په دې نه پوهیږي چې پاکستان تش په نوم اسلامي جمهوریت دی، نه خو
هلته شریعت شته او نه کوم اسلامي قانون، قانون یې هماغه د انګرېز قانون دی، هسې نوم یې پاکستان ورکړی دی کنه هماغه د انګرېزانو حکومت، د مسلمان په جامه کې چلوي، په دې اړه، د لوی افغانستان ملي اتل حاجي صاحب میرزاعلي خان (ایپي فقیر) یوه مشهوره خبره ده چې ویلي یې وو:
**«خر هماغه خر دی، یوازې کته یې بدله ده.»**
او دا به هم ورزیاته کړو چې پاکستاني چارواکي له جناح نیولي تر نن پورې، څه چې په خوله وایي هغه نه کوي او څه چې له نورو غواړي چې باید ویې کړي، په خپله یې نه کوي، دا ډول خلک قرآن کریم هم یاد کړي دي فرمايي:﴿يَقُولُونَ بِأَفْوَاهِهِم مَّا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ﴾
ژباړه:«دوی په خپلو ژبو سره هغه څه وایي چې په زړونو کې یې نه وي.» (فتح: ۱۱؛ آل‌عمران: ۱۶۷)

------------------------------------------------------------

(*):**هریجن: سپیرنه:** د لرغونو آریایانو په لومړنیو دیني کتابونو (ویدي سرودونو) کې د آریایانو د څلورو پوړونو (طبقو) یادونه شوي ده چې لومړی پوړ وګړي یې برهمنان دي، برهمن د آریایانو دیني مشران، روحانیون، ښوونکي او مفکران وو چې اوس مهال د هندوانو دیني ښوونکي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دویم پوړ وګړي کشتریه دي، کشتریه د آریایانو او اوس مهال هندوانو پاچاهان، حاکمان او جنګیالی دي.
دریم پوړ د ویشیه یا ویسیا ډله ده چې پانګوال، کسبګر، صرفات او نور وګړي دي.
څلورم پوړ شودرا وګړي دي، شودرا کرونده ګر، کارګر او د کلي او کور کارونه ترسره کوي. (جواهر لال نهرو:کشف هند. فارسي ژباړه: محمود تفضلي. لومړی ټوک. ۴۱۹مخ)
ځیني څېړونکي شودرا، ناپاک او نجس (چندلا) بولي په داسي حال کي چې نجس د آریایانو له توکم څخه بهر خلک وو، جواهر لال نهرو لیکي:«شودرا (کرونده ګر او کارګران) وو، خو ناپاک یا نجس په آریایانو کي نه شمېرل کیږي. (هماغه کتاب.۱۹۷مخ)

نهرو رښتیا وایي د آریایانو د ویدي سرودونو د رېګ ویدا په کتاب کي د څلور پوړونو په اړه داسي راغلي دي:«هغه مهال چې (پروش) يي ذبح کړ، هغه يي په څو ټوټو ووېشلو:... د هغه خوله برهمن وه، دوه لاسونه يي (راجنیه =کشتریه) او ادمونه یا ورنونه يي (ویشیه=ویشیا) او (شودر) يي له پښو څخه رامنځ ته شول.» (رېګ ویدا: لسمه مانډلا، ۹۰ سرود، ۱۱-۱۲ بندونه)

د آباسیند چپي غاړي، پنجاب ځایي اوسېدونکي آریایانو داسه یا داسیو، مریان (غلامان) بلل، داسه یا داسیو له آریایانو متفاوتي څېړي درلودلې، د دوی رنګونه تور او پوزې يي پلني وې خو آریایان سپین پوستي او ښکلي خلک وو، د رېګ ویدا په لاندي سرودونو کي د داسه د څرنګوالي په اړه راغلي وایي:
«ای اتلانو! تاسو په خپلو جګړو کي حتا **داسه، غوا پوزو (وري شپېره)** پستی او جادوګری مغلوبی کړي دي.» (اوومه ماندلا: ۹۹ سرود، ۴ بند)
آریایان له داسه یا داسیو سره په جګړو کي له خپلو خدایانو مرسته غواړي د رېګ ویدا په کتاب کي راغي وایي:«ته بهترین وژونکی وریترا (يي) چې زموږ دبښمنان **(داسیو)** دي وشړل.» (لومړی ماندلا: ۷۸ سرود، ۴ بند)
«هغه سړي چې ستا پر ملاتړ يي پر خپلو رقیبانو بری وموند، څرنګ چې آریایانو پر **(داسیو)** بری وموند، درناوی يي کوو... .» (دوېمه ماندلا: ۱۱ سرود، ۱۹ بند)
«... ای منیو، ای چې پرکه (د آسمان برېښنا) دي لکه وسله په لاس ده، د خپل دوست په فکر کي اوسه او **داسیو** ووژنه.» (لسمه ماندلا: ۸۳ سرود، ۶ بند)
«په خپله وسله يي وژني، هغه چې **داسیو** وژني.» (دوېمه ماندلا: ۱۲ سرود، ۱۰ بند)

ناپاک، نجس (پاریا) طبقه خلک له پوړ یا طبقي څخه بهر مانا لري، د آریایانو له څلورو پوړونو بهر خلک، له ټولو ټولنیز او دیني حقونو محروم وو، پاریا د هندوانو له نظره ناپاک وو، تر دې چې هندوان په لاس وروړلو سره ناپاک کیدل، پاریا اړ وو له ښارونو او کلیو بهر ژوند وکړي او د خوړو لاس ته راوړلو په موخه هغه ټیټي چاري تر سره کړي چې نور خلک يي نه کوي.
«د هند په شمال کي لږ شمېر خلک چې معمولاً چټلی، کثافات او د انسانانو بولي پاکولي نجس يي بلل. د هند په جنوب کي د نجسو شمېره ډېره زیاته وه. دوی د مړیو مراسم هم تر سره کول.» (کشف هند.۴۲۱مخ)
د ناپاکو یا نجسو (پاریا) طبقي ته ګاندي جي د هریجن (د خدای بندګانو) نوم ورکړ، له هغوی سره يي یو ځای ډوډۍ وخوړه، د انګرېزانو هغه توطیه چې د کانګرس ګوند پر وړاندي يي جوړوله، له منځه یوړه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ



(لومړۍ لیکه، له چپ لوري دویم کس چې د هندوانو کالي يې اغوستي دي د پاکستان د سترې محکمې رييس جوګندر ناتې منډل او د لومړۍ لیکې په منځ کې محمد علي جناح)

نېټه: /۱/۱۴۰۲ل. ل

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ